د علم په زده کړې
سره خپله روښانه راتلونکې
ډاډمنه کړئ.

# هفته نامه معارف اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۰۱) ماه ذوالقعدة الحرام ۱۴۴٦ هـ ق. مطابق ماه ثور ۱۴۰٤ هـ ش.

## فاریاب ته د پوهنې وزارت د سرپرست سفر



د پوهنې وزارت سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا، د یاد وزارت سلاکار الحاج مولوي سید غیاث الدین آغا او ورسره مل پلاوي د فاریاب ولایت د تعلیمي وضعیت ارزونې او ځینو رسمي چارو ترسره کولو په موخه یاد ولایت ته سفروکړ.

په پیل کې د فاریاب ولایت والي او مسئولینو د پوهنې وزارت سرپرست او ورسره پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او د پوهنیز نظام د وروستیو پرمختګونو په اړه یې نوموړي ته هراړخیز معلومات وړاندې کړل.

وروسته د پوهنې وزارت سرپرست د مسئولینو سره د لیدنو سربېره، په بېلابېلو ولسوالیو کې د ۱۰۳.٦۱ مېلیونه افغانیو په لګښت د ۸ بابه ښوونځیو ودانۍ پرانیستلې او هم مهاله یې د مرکز په شمول په پشتون کوټ، شیرین تګاب، اندخوی، قیصار، خیبر او المار ولسوالیو کې د ۱۲ بابه ښوونځیو د ودانیو بنسټ ډبرې چې د پوهنې په برخه کې د همکارو ادارو په ملاتړ، د ۱۷۸.۹۸ مېلیونه افغانیو په لګښت سره به جوړې شي کېښودې.

همدارنګه نوموړي د پوهنې وزارت له بودجې څخه د ۱۳.۵ مېلیونه افغانیو په لګښت د ۱۹ بابه مدارسو او ښوونځیو ودانۍ تر بیارغونې وروسته پرانیستلې او د مرکز په شمول یې ...

۲مخ

## دیدار سرپرست وزارت معارف از جامعه دارالعلوم ولایت جوزجان

الحاج مولوی حبیب الله آغا، سرپرست وزارت معارف طی سفری که به ولایت جوزجان داشت، در حالی که از سوی الحاج مولوي سید غیاث الدین آغا مشاور این وزارت و شماری از مسئولین معارف معیت می‌شد با مفتی عبدالحفیظ قرشی رئیس و شماری از مسئولان و طلاب جامعه دارالعلوم آن ولایت ملاقات نمود.

سرپرست وزارت معارف در دیدار از این نهاد علمی و دینی، ضمن صحبت های همه جانبه با مسئولین و طلاب، در مورد مقام و فضیلت علم در جامعه گفت: «علم، صفت الله تعالی بوده و برای تحصیل این علم ولو اندک یا بسیار باشد، باید کوشش و عرق ریزی نمود.»

در مقابل، مسئولین و مهتمم جامعه مذکور ضمن خوش‌آمدگویی سرپرست وزارت معارف و هیئت همراه شان، در سخنانی تشریف آوری رهبری وزارت معارف را به دارالعلوم شان، سبب تعمق حس آموزشی در میان شاگردان و مایه تشویق و ترغیب خانواده های آنان دانستند.

در پایان این دیدار، آنان نظریات و مشکلات شان را جهت بهبود وضعیت و بلند بردن کیفیت تعلیمی در آن نهاد با رهبری این وزارت شریک نموده که در رابطه به حل آن‌ها از سوی سرپرست وزارت معارف وعده سپرده شد.



## د اسلامي زده کړو معین د نظامي اصلاحاتو کمیسیون له مسئول سره وکتل




د پوهنې وزارت د اسلامي زده‌کړو معین الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده د افغانستان اسلامي امارت د نظامي اصلاحاتو کمیسیون له مسئول مولوي عبدالرحمن منیر سره په خپل دفتر کې وکتل.

په یاده کتنه کې د اسلامي زده کړو معین د هېواد د نظامي اصلاحاتو کمېسیون رئیس ته ښه راغلاست ووایه، د مدارسو او دارالحفاظونو په اړه یې معلومات وړاندې او یاد کمېسیون ته یې د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ په دې کتنه کې د افغانستان اسلامي امارت د نظامي اصلاحاتو کمیسیون مسئول مولوي عبدالرحمن منیر په خپلو خبرو کې د مدارسو او دارالحفاظونو د رول په اړه د بحث په ترخ کې، یاد مرکزونه د اسلام مقدس دین بنسټ وباله او زیاته یې کړه: "د اسلامي ټولنې بنسټیز جوړښت له همدغو مرکزونو څخه پیل کېږي."

## د «نجم القرآن» تر سرلیک لاندې د قرآن کریم د حفظ او حسن قرائت دسیالیو پای

د هلمند ولایت مرکز لښکرګاه ښار اړوند غازي محمد ایوب خان مېنې عمري مانۍ کې د یو لړ مراسمو پر مهال د سویل لوېدیز زون په کچه د «نجم القرآن» تر سرلیک لاندې د قرآنکریم د حفظ او حسن قرائت سیالۍ چې اته میاشتې وړاندې پیل شوې وې، پای ته ورسېدې.

په یادو پرتمینو مراسمو کې د پوهنې وزارت د اسلامي زده‌کړو معینیت د مدارسو او دارالحفاظونو رئیس الحاج مفتي عبدالرزاق"صدیق"، د هلمند ولایت والي الحاج مولوي عبدالرحمن "مسلم کندزي، د پوهنې رئیس الحاج مولوي محمد عوض"انصاري"، مسئولینو، ګڼ شمېر جیدو علماء کرامو، حافظانو، قاریانو او عامو وګړو ګډون درلود.

په دې غونډه کې د هلمند ولایت پوهنې رئیس د یادو آزموینو په تړاو هر اړخیزې خبرې وکړې ویې ویل: یادې سیالۍ د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت په نوښت، د زون په کچه ۸ میاشتې وړاندې په هلمند، کندهار، زابل او اروزګان کې پیل شوې وې.

نوموړي زیاته کړه: یادې سیالۍ په دریو پړاونو کې ترسره شوې.

۲مخ



## در این شماره

صفحه ۲ — راستانه شوو افغان کډوالو ماشومانو ته د زده کړې زمینه مساعده ده
۲مخ — د کابل ښار اړوندو ښوونځیو آمرینو او مدیرانو لپاره ۵ ورځنی علمي سیمینار په لار واچول شو
۳مخ — د امام ابو حنیفه«رح» شخصیت او علمیت په اړه

## تهداب گذاری صنوف جدید درسی برای یک باب مکتب در ولایت پکتیا

به تعداد ۱۱ باب صنوف درسی جدید برای لیسه مرکزی پتان ولسوالی دند پتان ولایت پکتیا از سوی مسئولین معارف آن ولایت تهداب‌گذاری گردید.

صنوف یاد شده که قرار است به هزینه بیش از ۶۰۰ هزار افغانی از مساعدت تجار ملی و شاگردان فارغ شده از مکتب مذکور اعمار گردد، محیط مناسب تعلیمی را برای صدها تن از شاگردان این لیسه فراهم خواهد کرد.

سرلیکنه

## راستانه شوو افغان کډوالو ماشومانو ته د زده کړې زمینه مساعده ده

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَی سَیِّدِالمُرسَلَینَ وَعَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجمَعِین.

افغانستان پـه تېرو څـو لسیزو کـې د اشـغال او نـا امنـۍ سـره مـخ و، چـې لـه املـه یـې میلیونونـه افغانـان اړ شـول خپـل ټاټوبـی پرېږدي او د نـړۍ بېلابېلـو پـه ځانګـړې توګـه ګاونډیـو هېوادونـو تـه کـډه شـي. دغـه کډوالـۍ د یـو نسـل د تعلیمـي، کلتـوري او ټولنیـز بحـران لامـل شـوې. سـره لـه دې چـې افغـان کـډوال پـه بېلابېلـو هېوادونـو کـې د ژونـد کولـو لپـاره لاري موندلـي، خـو د خپلـو ماشـومانو لپـاره یـې تـر ټولـو مهمه اړتیـا همـدا وه چـې د زده کـړې فرصتونـه ولـري، تـر څـو هغـوی وکـولای شـي د راتلونکـي افغانسـتان د بیارغونـې برخـه شـي.

پـه هېـواد کـې د اسـلامي امـارت تـر بیاواکمنېـدو را پدېخـوا چـې د اللـه ﷻ پـه فضـل او کـرم سـره امـن او ثبـات فضـا را منځ ته شـوې پـه خپلـه خوښـه بېرتـه هېـواد تـه راسـتنېږي. پـه دې بهیـر کـې د افغـان کډوالـو ماشـومانو لپـاره د زده کـړې زمینـې برابـرول لومړنـۍ اړتیـا ده. چـې لـه نېکـه مرغـه پوهنـې وزارت پـه دې برخـه کـې بشـپړ چمتوالـی لـري او تـر دې مهالـه یـې هېـواد ته د راسـتنو شـوو زرګونـو افغـان بچیانـو تـه د زده کـړې زمینـه برابـره کـړې.

د پوهنـې وزارت مشـرتابه راسـتانه شـوو کـډوال ماشـومانو تـه د زده کـړې زمینـې برابـرول نـه یواځـې خپـل اسـلامي او ملي مسـئولیت ګڼـي، بلکـې پـه دې بـاور دی چـې دا کار د هېـواد دپرمختـګ لپاره مهـم او حیاتـي ګام دی.

راسـتنېدونکو هېوادوالـو تـه د زده کـړو زمینـې برابـرول یواځـې پـه کتـاب او قلـم پـورې نـه محدودیـږي بلکـې د پوهنـې وزارت هڅـه کـوي چـې تـر خپـل تـوان پـورې طالـب العلمانـو او زده کوونکـو تـه معیـاري ښـوونیز چاپېریـال، د مسـلکي اسـتاذانو او ښـوونکو ګمـارل، د درسـي مـوادو چمتـو کـول او د مدرسـو او ښـوونځیو د پراختیـا پـه برخـه کـې لازم اقدامـات تـر سـره کـړي، یـادې ټولـې برخـې د دې ماشـومانو لپـاره پـه جـدي توګـه تـر کار لانـدې دي، ترڅـو دوی پـه خپـل ټاټوبـي کـې نـوی ژونـد پیـل کـړي.

د افغـان کډوالـو لپـاره د زده کـړو زمینـې برابـرول یواځـې د حکومـت مسـؤولیت نـه دی، بلکـې دا یـوه ملـي دنـده ده چـې ټول افغانـان بایـد ورسـره مرسـته وکـړي.

د افغـان کډوالـو ماشـومانو تـه د زده کـړو زمینـه برابـرول، د آبـاد او سمسـور افغانسـتان جوړولـو لپـاره حیاتـي ده. دا هڅـه بایـد پـه دوامـداره توګـه ترسـره شـي، ترڅـو زمـوږ راتلونکـي نسـلونه د خپـل هېـواد پـه پرمختـګ کـې فعالـه ونـډه واخلـي او د افغانسـتان راتلونکـی د تعلیـم پـه رڼـا روښـانه شـي.

درنـو هېوادوالـو! د پوهنـې وزارت پـه ټـول تـوان هڅـه کـړې او کوي یـې چـې هـم پـه هېـواد د ننـه ځایـي هېوادوالـو او هـم لـه نـورو هېوادونـو راسـتانه شـوو کډوالـو لپـاره د زده کـړو زمینـه تـر پخـوا ډېـره چټکـه پراخـه او بډایـه کـړي دا چـې د هېـواد ښـوونیز نظـام ډېـر پـراخ او د هېوادوالـو بشـپړ ملاتـړ تـه اړتیـا لـري نـو ښـایي چـې ټـول هېـوادوال د ښـوونیز نظـام د لا پراختیـا او بډاینـې لپـاره متـې راونغـاړي او پـدې برخـه کـې د تېـر پـه څېـر خپلـې مالـي او معنـوي مرسـتې و نـه سـپموي. مـوږ د هېـواد د ښـې راتلونکـې او خپلـو ماشـومانو د ښـې روزنـې پـه برخـه کـې مسـئولیت لـرو نـو راځـئ چـې خپـل مسـئولیت پـه ښـه توګـه ادا کـړو مدرسـو او ښـوونځیو کـې د خپلـو ماشـومانو پـه شـمولیت او لـه پوهنیـز نظـام څخـه پـه خپـل ملاتـړ سـره دغـه مسـئولیت پـه ښـه توګـه ادا کـړو.

## راپور هفته‌وار کار و فعالیت ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف

بنـا بـه هدایـت الحـاج مولـوی جمعـه خـان سـروری رئیـس دعـوت و ارشـاد وزارت معـارف، مسـئولین ریاسـت مذکـور در دیـدار بـا مدیـران ۱۲ بـاب مکاتـب امارتـی و خصوصـی نواحـی چهـارم، دهـم و سـیزدهم تعلیمـی شـهر کابـل؛ مطابـق هدایـت مقـام وزارت معـارف، جهـت عملـی سـازی یونیفـورم شـاگردان مکاتـب بـه اسـاس اصـول اسـلامی و عـرف افغانـی هدایـات لازم را بـه آن‌هـا سـپردند.

مسـئولین مراکـز تعلیمـی مذکـور بـا خرسـندی تمـام هدایـات را پذیرفتـه و عملـی نمـودن آن را بـرای متعلمیـن گام مثبـت تلقـی نمودنـد.

همچنـان رئیـس دعـوت و ارشـاد وزارت معارف بـا همـکاری سـایر منسـوبین آن ریاسـت بـا شـماری از مسـئولین کورس‌هـای خصوصـی دیـدار کـرده، روی یـک سلسـله اصلاحـات مثبـت بحـث و گفتگـو نمودنـد. همچنـان جریـان دروس بـرای کارمنـدان هسـته مرکـزی بـه گونـه عـادی تـداوم یافـت.

بـه اسـاس گزارشـات واصلـه از حـوزه هـای تعلیمـی ریاسـت معـارف شـهر کابـل، ریاسـت هـای معـارف ولایـات و آمریـت هـای معـارف ولسـوالی هـا، حاکـی از آن اسـت کـه حلقـات درسـی کارمنـدان نهـاد هـای یـاد شـده، کمـا فی‌السـابق جریان داشـته اسـت و هـم چنـان هیئت هـای ریاسـت دعـوت و ارشـاد وزارت معـارف بـا کارمنـدان شـماری از ریاسـت هـای هسـته مرکزی از نزدیـک دیـدار نمـوده و بـرای آن هـا توصیـه هـای لازم صـورت گرفتـه اسـت.

## د کابل ښار اړوندو ښوونځیو آمرینو او مدیرانو لپاره علمي سیمینار تر سره شو

د پوهنـې وزارت د ښـوونکو مسـلکي پراختیـا ریاسـت او د سـید جمـال الدیـن افغـان مرکـزي زون آمریـت لخـوا، د کابـل ښـار د ښـوونځیو ۳۰۰ تنـو نارینـه او ښـځینه آمرینـو، مدیرانـو او سرښـوونکو مسـلکي وړتیـاوو لوړولـو پـه موخـه ۵ ورځنـی سـیمینار پرانیسـتل شـو.

پـه یاد سیمینار کـې د پوهنـې وزارت د ښـوونیز نصـاب او د ښـوونکو د روزنـې او مسـلکي پراختیـا لـوی رئیـس الحـاج مولـوي اولګل «ایوبـي»، د ښـوونکو مسـلکي پراختیـا رئیـس مولـوي محمـد ابراهیـم «عمـري»، د کابـل ښـار پوهنـې رئیـس قـاري عبدالباسـط «حقانـي»، مسـئولینو، د ښـوونیزو مرکزونـو مدیرانـو او سرښـوونکو ګـډون درلـود.

د پوهنـې وزارت د ښـوونیز نصـاب او د ښـوونکو دروزنـې او مسـلکي پراختیـا لـوی رئیـس د دغـه ډول علمـي سـیمینارونو د ګټـې او ارزښـت پـه اړه هراړخیـز معلومـات وړانـدې کـړل.

وروسـته د کابـل ښـار پوهنـې رئیـس وویـل چـې، د یـاد ۵ ورځنـي سـیمینار څخـه اساسـي موخـه، د مسـئولینو مسـلکي وړتیـاوې لـوړول دي او لـه ګـډون والـو یـې وغوښـتل چـې د دغـه ډول روزنیـزو پروګرامونـو لـه منځپانګـې څخـه اعظمـي ګټـه پورتـه کـړئ.

همدارنګـه د ښـوونکو د مسـلکي پراختیـا رئیـس د ټولـو ښـوونیزو بنسـټونو مسـئولینو تـه پـه خطـاب کـې وویـل چـې خپلـې دنـدې پـه بشـپړ اخـلاص ترسـره او نـوي زده کـړې مهارتونـه پـه خپلـو ادارو کـې پلـي کـړئ.

دغـه راز د سـیمینار ګـډون والـو هـم دغـه ډول پروګرامونـه د هغـوی د مسـلکي او تجربـوي وړتیـاوو لوړولـو پـه برخـه کـې خـورا اغېزمـن وبلـل او پـر دوام یـې ټینـګار وکـړ.

د مسـئولینو پـه وینـا، د دغـه سـیمینار پـه لومـړي پـړاو کـې د کابـل ښـار لـه ۱۵۰ بابـه ښـوونځیو څخـه ۱۵۰ تنـه نارینـه او ۱۵۰ تنـه نـورې ښـځینه آمرینـې، مدیرانـې او سرښـوونکې شـاملې دي، چـې د سـید جمـال الدیـن افغـان مرکـزي زون آمریـت کارپوهانـو او روزونکـو لخـوا بـه ورتـه علمـي روزنـه ورکـړل شـي.

د یادونـې وړ ده، چـې د همدغـه پروګـرام پـه دویمـه لـړۍ کـې بـه د ښـوونځیو ټولټـال ۲۱۰۰ تنـه علمـي غـړي او ښـوونکي د هغـوی د مېتودیکـي او مسـلکي وړتیـاوو لوړولـو پـه موخـه وروزل شـي.

### فاریاب ولایت ته د...

پـه ګرزیـوان، پښـتون کـوټ او بنـدر ولسـوالیو کـې ۶ بابـه لومړنـي ښـوونځي تأسـیس کـړل.

د پوهنـې وزارت سرپرسـت د فاریـاب ولایـت د ولسـوالیو پوهنـې آمرینـو تـه د ۱۳ عـرادې موټرسـایکلونو وېـش سـربېره، پـه مرکـز میمنـه او قرغـان ولسـوالۍ کـې د ۱۱مېلیونـه افغانیـو پـه لګښـت د ۲ بابـه مدارسـو ودانـۍ افتتـاح او پـه ورتـه وخـت کـې یـې د عامـو خلکـو پـه همـکارۍ د ۱۳۰مېلیونـه افغانیـو پـه لګښـت د پوهنـې ریاسـت او اندخـوی ولسـوالۍ پـه یـو ښـوونځي کـې د ۲ محرابـه جوماتونـو بنسـټ ډبـرې کېښـودې.

پـه ورتـه مهـال نومـوړي د یـاد ولایـت د یـو شـمېر ښـوونیزو مرکزونـو د اداري او تدریسـي چـارو څخـه د کتنـې پرمهـال، اړونـدو مسـئولینو او ښـوونکو تـه پـه جـلا جـلا غونـډو کـې، د علـم او پوهـې پـه ارزښـت خبـرې وکـړې او ټینـګار یـې وکـړ چـې زمـوږ ټولنـه د دینـي علومـو سـربېره عصـري علومـو تـه هـم جـدي اړتیـا لـري او د هېـواد بچیانـو د سـالمې ښـوونې او روزنـې کیفیـت د لاپیاوړتیـا ډاډ یـې څرګنـد کـړ.

بلخـوا؛ د فاریـاب پوهنـې رئیـس وویـل: للـه الحمـد اوسـمهال زمـوږ پوهنیـز نظـام پـه مـادي او معنـوي برخـو کـې بشـپړ معیـاري پـړاو تـه رسـېدلی چـې د نـن ورځـې د لسـګونو تعلیمـي مرکزونـو تأسـیس او پرانیسـته یـې د بېلګـې پـه توګـه یادولـی شـو.

نومـوړي د پوهنـې وزارت د مشـرتابه لـه سـفر څخـه د خوښـۍ ترڅنـګ ډاډ ورکـړ، چـې دوی بـه د اسـلامي نظـام د مشـرتابه او پوهنـې وزارت د رهبـرۍ پرېکـړې او لارښـوونې پـه بشـپړ او دقیـق ډول پلـي کـړي او د هېـواد د نـوي نسـل د روزنـې پـه برخـه کـې بـه خپلـې هڅـې پـه خـورا شـفقت او بشـپړ اهتمـام سـره لاپسـې ګړنـدۍ کـړي.

د پوهنـې وزارت سرپرسـت همدارنګـه د یـوې غونـډې پـه تـرڅ کـې د یـاد ولایـت د علماءکرامـو او متنفذینـو سـره هـم وکتـل پـه دې غونـډې کـې نومـوړي د خپلـو خبـرو پـه تـرڅ کـې ټینـګار وکـړ چـې د دینـي علومـو سـربېره، د عصـري علومـو زده کـړه هـم د ټولنـې یـو لـه مهمـو اړتیـاوو څخـه ده؛ نـو د یـاد وزارت یـو لـه مهمـو لومړیتوبونـو څخـه پـه هېـواد کـې د مدارسـو او ښـوونځیو پـه ګـډون د ټولـو تعلیمـي مرکزونـو ترمنځ د بشـپړ یووالـي فضـاء رامنځتـه کـول دي.

نومـوړي د ټولنـې پـه اصـلاح کـې د علماءکرامـو رول تـه پـه اشـارې سـره څرګنـده کـړه: "للـه الحمـد؛ علماءکـرام پـه اسـلامي نظـام کـې کلیـدي رول لـري او پـه علماءکرامـو، چارواکـو او ښـوونکو غـږ کـوم، چـې د علـم او پوهـې د کمیـت او کیفیـت کچـې لا لوړولـو او پرمختـګ لپـاره خپلـې هڅـې زیاتـې کـړي.

د غونـډې پـه دوام، د فاریـاب ولایـت یـو شـمېر مسـئولینو، علماءکرامـو او علمـي شـخصیتونو پـه خپلـو وینـاوو کـې، یـاد ولایـت تـه د پوهنـې وزارت د سرپرسـت لـه سـفر تـود هرکلـی وکـړ او د پوهنـې وزارت د مشـرتابه لـه هغـو هڅـو څخـه یـې مننـه وکـړه، چـې پـه یـاد ولایـت کـې یـې د مدارسـو او ښـوونځیو د پراختیـا او د ماشـومانو لپـاره د ډېـرو تعلیمـي آسـانتیاوو برابرولـو پـه برخـه کـې یـې کـړې دي.

د دې لیدنـو پـه پـای کـې، سـیمه ییـزو مسـئولینو د پوهنـې وزارت مشـرتابه سـره یـو لـړ نظرونـه، وړاندیزونـه او سـتونزې شـریکې کـړې، چـې د پوهنـې مشـرتابه لـه لـوري ورسـره د حـل پـه برخـه کـې د همـکارۍ ډاډ ورکـړل شـو.

### د اسلامي زده‌کړو معینیت کارکوونکو ...

نامناسـب او ناخوښـه کړنـې د اسـلامي ارزښـتونو او زمـوږ د ملـي کلتـور سـره پـه ټکـر کـې دي، نـو څنګـه مـوږ کولـی شـو دغـه ډول رواجونـه د اصـلاح، عقـل او ایمـان پـر مټ لـه ټولنـې څخـه لـرې کـړو؟ لـه دغـه سـیمینار څخـه مـو موخـه یواځـې د فرمانونـو تشـریح کـول نـه دي؛ بلکـې د داسـې ټولنـې جـوړول دي چـې پکـې سـنت او شـریعت پـر بشـپړ ډول پلـی شـي.

د سـیمینار ګـډون والـو د دغـه ډول علمـي غونډو لـه تنظیـم څخـه هرکلـی وکـړ، چـې د عامـه ذهنونـو روښـانه کولـو او د اسـلامي شـریعت سـره سـم د یـوې پاکـې ټولنـې پـه جوړولـو کـې اغېزمـن تمامېـدای شـي.

### د «نجم القرآن» تر سرلیک لاندې ...

وروسـې د پوهنـې وزارت د اسـلامي زده‌کـړو معینیـت د مدارسـو او دارالحفاظونـو رئیـس پـه خپلـه وینـا کـې د داسـې سـیالیو ترسـره کـول د مدارسـو د طلابـو پـه هڅولـو او د هغـوی ترمنځ د سـالم رقابـت فضـاء رامنځتـه کولـو لپـاره خـورا مهمـې وبللـې او دا لـړۍ یـې د تعلیمـي وضعیـت لاښـه والـي لپـاره ګټـوره وبللـه.

د یادونـې وړ ده چـې د سـویل لویدیـز زون پـه کچـه پـه دغـو سـیالیو کـې، د هلمنـد ولایـت نـاوې ولسـوالۍ اړونـد سـعد ابـن ابـي وقـاص «رضـی اللـه عنـه» لـه مدرسـې څخـه د حفـظ پـه برخـه کـې حافـظ محمـد ادریـس او د حسـن قرائـت برخـه کـې، د همـدې ولسـوالۍ لـه دارالعلـوم شـریعه څخـه قـاري سـراج الدیـن لومـړي مقامونـه ترلاسـه کـړل.

پـه پـای کـې د مسـئولینو لـه لـوري د یـادو سـیالیو د لومـړي مقامونـو ګټونکـو تـه ۲۰ زره افغانـۍ، د دویـم مقامونـو ګټونکـو تـه ۱۰زره افغانـۍ او د درېیـم مقامونـو ګټونکـو تـه ۵ زره افغانـۍ نغـدي جایـزې ورکـړل شـوې.

# رياضي څنګه تدريس کړو؟

عبدالغفار فضلي

داسې ډېر میتودونه شته چې له هغو څخه په ګټې اخيستنې سره کولی شو زده کوونکو ته د رياضي جذابيت او ارزښت وروښيو. د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره بايد داسې میتود او وسايلو څخه ګټه واخيستل شي چې د زده کوونکي په ذهن کې يوه مثبته انګیزه تولید شي چې په پايله کې زده کوونکي پر ځان باور، له رياضي سره علاقه او په ورځني ژوند کې د رياضي استعمالول زده کوي.

يو ښوونکي ته په خپل مسلک بشپړ حاکميت تر څنګ د تدريس له بېلابېلو میتودونو څخه ګټه اخيستل ډېر اړين دي. په دې ليکنه کې هڅه شوې چې د رياضي د مؤثر تدريس په اړه مختلف میتودونه او تخنيکونه را ټول کړو.

زده کوونکو ته د رياضي ارزښت او د رياضي استعمال په ورځني ژوند کې ور وښاياست.

زده کوونکي له جمع، تفريق، ضرب، تقسيم، کسر، نسبت، تناسب... څخه تر اقتصاد، انجينري، کمپيوټرساينس... او د ژوند په هرې برخه کې، هر څومره چې کولی شي په ساده ډول ورته د رياضي ارزښت او په ورځني ژوند کې د رياضي استعمال وښاياست.

ورځني مثالونه ورکړئ.

د بېلګې په توګه: که زده کوونکو ته د جمع په موضوع کې کار کوئ نو مستقيمً د تختې پر مخ ( ۱۰ =۶+۴ ) مه ليکئ. بلکې له زده کوونکو وپوښتئ چې:

که کرکټ لوبه کوئ په لومړي بال څلوريزه ووهی او په دوهم بال شپږيزه ووهی نو ټولې څو منډې شوې؟

همداسې نور مثالونه ورکړئ. چې په دې سره به ماشومان هم رياضي استعمال په ورځني ژوند کې ومني او هم به له ټولګي د باندې له رياضې سره يو ډول اړيکه کې پاتې شي.

زده کوونکي تشويق کړئ.

د هر عمر لرونکي کسان تشويق او ملاتړ ته اړتيا لري په ځانګړي ډول کم عمر لرونکي ماشومان. مادي او معنوي تشويق دوی ته د لا ښه کار کولو وړتيا ورکوي او پر ځان يې باور زياتوي.

که له زده کوونکو يوه پوښتنه وکړئ، سم ځواب يې درکړ. آفرين، شاباس، څومره ښه، او داسې نور ښکلي او تشويقي الفاظ وکاروی... په مختلف ډول يې وهڅوئ. او که ځواب يې سم نه و، تهديدوی يې مه. بلکې ورته ووايه چې ځواب د بد نه دی، کوښښ وکړه... خو سم ځواب په سم ډول وروښايست.

د امکان په صورت کې له لاسي شيانو، انځورونو څخه استفاده وکړئ.

زده کوونکي د اوريدلو (لکچر ميتود) له لارې ۱۳٪ زده کړه کوي خو د ليدلو له لارې بيا ۷۵٪ زده کړه کولی شي. نو د تدريس په برخه کې د لاسي شيانو، انځورونو استعمال تاسو سره د درس هدف په روښانه کولو کې پوره مرسته کوي او هم زده کوونکي په کم وخت کې ډېر څه زده کولی شي. په دې حالت کې د زده کوونکو تمرکز زيات وي او تر ډېره به د ستړيا احساس ونه کړي.

زده کوونکو ته د ګروپي کار اجازه ورکړئ.

رياضي يو داسې مضمون دی چې يوازې په لوستلو او يادولو سره نه زده کيږي، دا مضمون ډېر فکر او کار ته اړتيا لري. ځينې زده کوونکي له ښوونکي پوښتنې نه شي کولی خو په ګروپي کار کې يې له ټولګيوالو څخه پوښتي او زده کوي يې. د ګروپي کار يوه ګټه داده چې زده کوونکي يوې ستونزې ته په ګډه حل لار پيدا کوي چې ګروپي کار زده کوونکو انتقادي تفکر، استدلال او يو او بل سره همکارۍ ته هڅوي.

د تدريس پر وخت د ټولګي کم ذهنه شاګردان په نظر کې نيسئ.

ډېری وخت ښوونکي په ټولګي کې د لومړي قطار لپاره تدريس کوي د شا کتار زده کوونکي لکه نندارچيان ناست وي. بايد ښوونکي د تدريس په بهير کې کم ذهنه زده کوونکي هم په نظر کې ونيسي.

او هره موضوع په داسې ډول تدريس کړي چې هر يو زده کوونکي ځان مخاطب وګڼي. تر څو هر يو زده کوونکی بيل، بيل د مسؤليت احساس وکړي. په ټولګي کې زده کوونکي نه يو ډول استعداد لري او نه يو شان په ټولګي کې فعال وي.

هر درس ته د زده کوونکي له زاويې وګورئ.

هره موضوع په داسې ډول تحليل، تجزيه او تشريح کړئ چې د هرې سويې زده کوونکو لپاره آسانه وي. مرحله په مرحله کار وکړئ. يعنې فرض کړئ که تاسو زده کوونکی ياست، له ښوونکي مو د کوم ډول تدريس هيله لرله؟ کومې پوښتنې به دې له ښوونکي پوښتلې؟ همدې پوښتنو ته مو په حوصلې سره ځواب پيدا کړئ.

د درس ارزونه وکړئ.

د درس د ارزيابي لپاره اونيز او مياشتنی پلان جوړ کړئ. آزموينه واخلئ. که درس مو مثبته پايله لرله. ډيره ښه ده. او که پايله يې ستاسو په زړه نه وه، ميتود بدل کړئ. او لا ډير کار وکړئ.

نوټ: که څه هم په ځينو ښوونځيو کې ميتودونو عملي کول د زده کوونکو د شمير زياتوالي له امله يو څه ستونزمن وي، خو موږ هر يو د خپلو ماشومانو مسئول يو چې د ژوند په هرې برخې کې ورسره همکاري وکړو.

## ارزش علم

ارزش انسان ز علم و معرفت پیدا شود
بی‌هنر گر دعوی بی‌جا کند رسوا شود

هر که بر مردان حق پیوست، عنوانی گرفت
قطره چون واصل به دریا می‌شود دریا شود

ای که بر ما می‌کنی از جامه نو افتخار
افتخار آدمی کی جامــــــه دیبا شود

قیمت گوهر شود پیدا برِ گوهرشناس
قــدر ما در پای میزان عمل پیدا شود

آدمی هرگز نمی‌بیند ز ســــــــگینی گزند
از سبک‌مغزی انسان چون سنگ پیش پا شود

در مسیر زندگی هرگز نمی‌افتد به چاه
با چراغ دین و دانش هر که او بینا شود

ما که در راه طلب دم از حقیقت می‌زنیم
طعنه‌های مدعی کی ســــدّ راه ما شود

سر فـرو می‌آورد هر شاخه از بارآوری
می‌کـــند افتادگی انسان اگر دانا شود

چند روزی گر به کام مدعی گردد فلک
غم مخور خسرو که روزی هم به‌کام ما شود

## خود را به خدا ﷻ بسپار

زندگی همیشه هموار و آرام نیست. گاهی احساس می‌کنیم که در انتهای یک جاده‌ی تاریک ایستاده‌ایم و هیچ راهی برای ادامه مسیر وجود ندارد. اما در این لحظات، یادمان باشد که خداوند ﷻ همیشه در کنار ماست.

حتی وقتی که خود را در لبه‌ی پرتگاه می‌بینیم خداوند ﷻ همیشه با ما است. او هیچ‌گاه ما را در سخت‌ترین شرایط رها نمی‌کند و در دل تنگ‌ترین لحظات، راه نجات را برایمان می‌گشاید. پس به خدا ﷻ اعتماد کن و او را به عنوان نجات‌دهنده‌ی خود بپذیر.

در هر شرایطی که هستی، مطمئن باش که خداوند ﷻ به همراه توست.

## داستان آموزنده

در یک صنف درسی معلم یک بوتل شفاف پنج لیتری را روی میز گذاشت.

او بوتل را با سنگ یکی یکی پر کرد تا زمانی که به سر رسید. سپس از شاگردان پرسید، «آیا بوتل پر است ؟».

شاگردان پاسخ دادند : بلی

معلم لبخند زد و سنگ ریزه های کوچک را داخل بوتل ریخت آنها در فاصله ها میان سنگ ها جا گرفتند. معلم دوباره از شاگردان پرسید « حالا چطور ؟ ».

شاگردان گفتند « بلی حالا کاملاً پر است».

معلم بعد از آن ریگ را داخل بوتل ریخته و ریگ تمام فضا های خالی را پر گرد. معلم روبه شاگردان کرد و گفت: « حالا چطور؟ آیا بوتل پر است؟».

شاگردان گفتند « بلی قطعا پر است».

معلم در پایان یک گیلاس آب را گرفت و آن را داخل بوتل ریخت و در بوتل جذب شد. سپس رو به شاگردان کرد و گفت: « این بوتل، زنده گی شماست.»

سنگ های بزرگ چیزهای هستند که واقعا اهمیت دارند مانند: عزیزان تان، سلامتی تان، آرامش تان حتی اگر همه چیزهای دیگر از بین بروند با این ها زنده گی هنوز هم پر است.

زیگ ها چیزهای مهمی هستند مانند : کارتان، اهداف تان و ثبات زنده گی تان.

سنگ ریزه های کوچک، چیز های کوچک است مانند: حواس پراگنده ، سرو صدا ها و فهرست های بی پایان کارها.

اگر زنده گی تان را اول با ریگ پر کنید، دیگر جایی برای چیزهای واقعاً مهم باقی نمی ماند.

در همین وقت یکی از شاگردان دستش را بلند کرد و پرسید « پس آب چیست ؟».

معلم لبخند زد و گفت: آب به ما یاد آوری می کند که حتی وقتی زنده گی کاملا پر به نظر میرسد هنوز هم جای برای چیزهای ساده، شاد و لبخند باقی است.

یک لبخند، یک قدم زنی، یک گیلاس چای آرام با کسی که دوستش دارید.

زنده گی را با چیزهای بزرگ شروع کنید.

بقیه چیزهای کوچک خودشان جای خود را پیدا می کنند.

## ضرب المثل های مشهور

- آتش که درگرفت، خشک و تر با هم می سوزند
- آدم خوش معامله، شریک در مال مردم است
- آدم دروغگو کم حافظه است
- آزموده را آزمودن خطاست
- آشپز که زیاد شد، آش یا شورمی‌شود یا بی نمک
- آش همان آش است و کاسه همان کاسه
- آن کس که تن سالمی دارد، گنجی دارد که خودش نمی داند
- پیش طبیب چی میروی، پشت سرگذشت برو



## فکاهی ها

شخصی محکمه می شد، وکیل مدافع هنگام دفاع اش می گوید.
قاضی صاحب، مرد را که شما محاکمه می کنید، پدری مهربان، انسان شریف، آدم با وقار، زحمت کش و پاکدامن است.
متهم درین هنگام به وکیلش می گوید.
وکیل دیوانه تو از من پول گرفتی و حالا از یک نفر دیگه دفاع میکنی؟

***

ترافیك از یک راننده امتحان رانندگی می گرفت. از او می‌پرسد اگر یك نفر وسط جاده باشد، برایش هارن می‌زنی یا چراغ روشن می کنی؟ نفر می گوید: برف پاك كن جناب!، ترافیک می‌پرسد: چرا ؟ نفر میگوید: جناب ترافیک ، یعنی یا برو این طرف یا برو اون طرف.

## زريني کرښې

**- اصلي مسکين څوک دی؟**

که يو اړمن انسان ته يوه ډوډی ورکړو په لسګونو دعاوې راته کوي هغه دعاوې چې موږ ورته احتياج يو، نو پوښتنه دا ده چې اصلي اړمن څوک دی ؟ هغه اړمن که موږ؟

موږ بايد يوه غريب او بې وزله ته صدقه په دې نيت ور نه کړو چې هغه ورته اړ دی، بلکې په دې نيت يې ورکړو چې موږ ددې صدقې قبلېدو او د هغه کس دعا ته اړ يو.

**- ماديات پالنه**

شيخ ذوالفقار احمد مجددي صيب وايې : دا دنيا د يو پل غونډې ده، هېڅ هوښيار انسان پر هغه کور نه جوړوي، خو موږ لګيا يو د هغه له پاسه مانۍ جوړوو.

**د سمون اراده:**

د جاهلانو سره په ناسته کې غلی اوسه او دعالمانو سره په مجلس کې غوږ ونيسه. ځکه چې د جاهلانو سره په خاموشۍ کې حلم او د عالمانو سره په خاموشي کې علم زياتيږي.

# Marif
Weekly

**کتنپلاوی:** الحاج مولوي شهاب الدين «ثاقب»
مولوي عزيز احمد «ريان»
مفتی حبيب الله «قتاده نوري»
احمد شعيب «حقيقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسيم «عياذ»
**مسئول مدير:** سعيد «جلال»
**انځور اخيستونکی:** محمد ادريس «نوري»
محمد اشرف «رسولي»

**صفحه آرا :** محمد قسيم «يعقوبي»
**تيراژ :** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړيکو رياست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمريت
**علاقه مندان معارف و نويسنده گان گرامی!**
شما می توانيد انتقادات، پيشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ايميل آدرس ذيل ارسال نماييد.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړيکي شمېره:** ۰۷۲۸٤۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 301 /2025


## د اسلامي زده کړو معينيت کارکوونکو لپاره د اسلامي امارت د عالي مقام فرمانونو اړوند سيمينار ترسره شو

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معينيت کارکوونکو لپاره د ټولنې د ناسمو او بې ځايه دودونو مخنيوي په اړه سيمينار ترسره شو، چې د افغانستان اسلامي امارت د عالي مقام مشرتابه فرمانونه پکې روښانه او توضيح شول.

په ياد سيمينار کې د پوهنې وزارت د استعدادونو ارزونې رئيس مفتي عبدالولي «سداد» ګډون والو ته د ناسمو او بې ځايه دودونو لکه؛ په ودونو، جشنونو، د وير مراسمو، له حج او عمرې څخه راستنېدو پر مهال د زياتو لګښتونو په اړه مفصل او جامع معلومات وړاندې کړل او د فرمان ټول مفردات يې په تفصيل سره تشريح کړل.

نوموړی وويل: داسې ... ۲مخ

## د فارياب ولايت د پوهنې نوی رئيس معرفي شو




د پوهنې وزارت د سرپرست الحاج مولوي حبيب الله آغا له لوري، الحاج مولوي حميدالله ارشاد د فارياب ولايت د پوهنې نوي رئيس په توګه معرفي شو.

په يادو مراسمو کې د فارياب ولايت پوهنې مسئولينو، د علماوو شورا غړو او د پوهنې رياست مهمو چارواکو برخه درلوده.

په پيل کې د پوهنې وزارت سرپرست د ياد ولايت د پوهنې نوي رئيس ته د مبارکۍ ترڅنګ، د پخواني رئيس له خدمتونو او اغېزناکو کړنو ستاينه وکړه او نوي رئيس ته يې د صادقانه خدمت او د پوهنې د لا پرمختګ په برخه کې د برياليتوب دعاء وکړه.

په ورته مهال د فارياب ولايت د پوهنې نوي رئيس، د افغانستان اسلامي امارت له مشرتابه په ځانګړې توګه د پوهنې وزارت د رهبرۍ له باور څخه د منندې سربېره ژمنه وکړه، چې د ټول توان او د خپلو تجربو څخه په استفادې سره به د تعليمي نظام لاپراختيا په برخه کې به نه ستړې کيدونکې هڅې وکړي.

## د پوهنې وزارت له لوري هلمند ولايت يو شمېر ښوونځيو ته د مېزونو او څوکيو وېش



د پوهنې وزارت د خدماتو رياست له لوري د ښوونيزو آسانتياوو او د ښوونيزو اړتياوو پوره کولو په موخه، د هلمند ولايت پوهنې رياست ته د ۶۰۰ سيټه مېزونو او څوکيو وېش لړۍ د يو لړ مراسمو په ترخ کې پيل شوه.

په يادو مراسمو کې د پوهنې وزارت د سرچينو او ادارې معينيت د خدماتو رئيس استاد حبيب الله خالد، د هلمند ولايت د پوهنې رياست استازي او يو شمېر نورو مسئولينو ګډون درلود.

د پوهنې وزارت د خدماتو رئيس وويل، چې د ياد وزارت له اساسي موخو څخه يو هم تعليمي مرکزونو ته د ښوونيزو آسانتياوو برابرول او د زده کوونکو لپاره د مناسب پوهنيز چاپېريال رامنځته کول دي.

نوموړي زياته کړه: "د هلمند ولايت پوهنې رياست لپاره دا ځل ۶۰۰ سېټه مېزونه او څوکۍ ځانګړې شوې، چې د اړتيا له مخې به د مرکز او ولسواليو اړوندو ښوونځيو ته ووېشل شي."

همدا راز نوموړي څرګنده کړه، چې ۵۰ پايې څوکۍ او ۱۰ پايې مېزونه د پوهنې وزارت د ساينس مرکز لابراتوارونو ته ځانګړي شوي.

د هلمند ولايت د پوهنې استازي د پوهنې وزارت له دغې بهير څخه د منندې ترڅنګ وويل: د يادو مېزونو او څوکيو لېږد به د ياد ولايت د ښوونيز نظام د لا معياري کېدو او پرمختګ لپاره بنسټيز ارزښت ولري.

## مساعدت کُتب و لوازم تدريسی با رياست معارف ولايت بادغيس

برای رياست معارف ولايت بادغيس از سوی يک نهاد حامی معارف مساعدت کتب درسی و لوازم ضروری تدريسی صورت گرفته است.

اين مساعدت ها که شامل ۲۰۵۶۰ جلد کتاب های درسی دوره اصول صنفی، ۱۵۸۰ بسته مارکر تخته و ۳۲ تخته خيمه می باشد، قرار است به زودی مطابق سهميه تعيين شده به مکاتب آن ولايت توزيع شود.

## آغاز کار ترميم ۵ باب مکتب در ولايت هرات

با آغاز سال تعليمی ۱۴۰۴، روند ترميم و بازسازی ۵ باب مکتب در ولسوالی‌های انجيل و رباط سنگی ولايت هرات آغاز گرديد.

اين پروژه‌ها با همکاری يکی از نهادهای حامی معارف در ولايت هرات، به هزينه مجموعی ۱۳ ميليون و ۱۰۰ هزار افغانی عملی می گردد.

مولوی رحمت‌الله جابر، رئيس معارف ولايت هرات، ترميم اين مکاتب را در فراهم‌آوری سهولت های بيشتر آموزشی و تامين محيط تعليمی مناسب برای شاگردان و بهبود کيفيت تدريس گام مهم عنوان نموده افزود: وزارت معارف تلاش می کند تا با همکاری نهادهای خيريه و همکار با معارف، زمينهٔ آموزش متوازن را برای اولاد وطن فراهم کند.

## اتمام کار بازسازی يک باب مکتب در ولايت پکتيا



کار بازسازی ليسه حبيب‌الله زرمتی در ولسوالی زرمت ولايت پکتيا که چندی پيش با هزينه ۲ ميليون و ۴۰۰ هزار افغانی از مساعدت های نقدی وزير انرژی و آب و اهالی منطقه آغاز گرديده بود، به پايان رسيده و طی مراسمی از سوی ملاعبداللطيف منصور سرپرست وزارت انرژی و آب، مقامات و مسئولين معارف آن ولايت افتتاح و به بهره برداری مجدد سپرده شد.

اين پروژه که شامل اعمار ۸ باب صنف درسی و ديوار احاطوی، ترميم تعميراتی و تسهيل ساير ضروريات تعليمی می باشد محيط مصئون آموزشی را برای بيش از ۱۸۰۰ متعلم فراهم نموده است.

رهبری وزارت معارف از حمايت های مادی و معنوی مردم با نظام معارف اظهار خرسندی نموده و از مسئولين، معلمين و شاگردان مکاتب می خواهد تا در استفاده مفيد و درست از امکانات فراهم آورده شده تعليمی در مکاتب شان، کوشا باشند.

## کندهار کې د يو باب ديني مدرسې ودانۍ پرانيستل شوه

د کندهار ولايت دامان ولسوالۍ اړوند په ناخېل آباد کلي کې يو باب ديني مدرسه، چې د سيمې د خلکو په مالي مرسته د ۵۰۰ زره افغانيو په لګښت سره جوړه شوې وه، د پوهنې وزارت او يو شمېر ځايي مسئولينو په حضور کې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

د يادونې وړ ده، چې د پورته ذکر شوې مدرسې ودانۍ؛ ۴ درسي ټولګي، احاطوي دېوال او نور اړين ملحقات لري. د پوهنې وزارت مشرتابه، د ښوونيز نظام د لاپياوړتيا برخه کې د خلکو له مادي او معنوي ملاتړ ستاينه کوي او د تعليمي مرکزونو له مسئولينو او زده کوونکو غواړي، تر څو د عامه شتمنيو ساتلو او پالنې ته جدي پاملرنه وکړي.

**تعليم و تربيت به منزله پُلی است که بايد از آن عبور کرد و به مرحله زيبای زندگی رسيد.**